د افغانستان اسلامي امارت
رياست الوزراء
د دفتر لوي رياست
د عامه او استراتيژيکو اړیکو معاونیت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

امارت اسلامی افغانستان
ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
معاونیت روابط عامه و استراتیژیک
مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت

Islamic Emirate of Afghanistan
Directorate of Ministers
General Director Chief of Staff
Deputy Director General of Public and Strategic Affairs
Government Media and Information Center

---

# د کلني راپور ورکولو فارمټ

| | |
|---|---|
| د اداري نوم (پښتو او دري) | اقتصاد وزارت / وزارت اقتصاد |
| د اداري د کارکوونکو تعداد (مرکز او ولایات) | (494 مرکزی ، 470 ولایتی) مجموع 964 |

| د لاسته راوړنو لنډيز (خلاصه) |
|---|
| اقتصاد وزارت د هېواد په کچه د اقتصادي فعالیتونو د همغږۍ او انسجام دنده په غاړه لري. د پراختیایي اهدافو تحقق، دکاری فرصتونو رامنځته راوړل ، عامه هوساینه ، دوامداره اقتصادي وده اوپه تدریجی ډول د بې وزلۍ د له منځه وړلو په برخه کې کار کوي. په تیر کال کې د دغه وزارت د مهمو لاسته راوړنو لنډیز په لاندې پنځو برخو کې وړاندې کیږي:<br>1 - د دریو راتلونکو کلونو لپاره ( ۱۴۰۲ څخه تر ۱۴۰۵) د هیواد په کچه د اقتصادي لومړیتوبونو پلان جوړول<br>2 - د غیر دولتي / موسسو د فعالیتونو همغږي او انسجام<br>3 - د اقتصادیسکټورونو د پراختیایي لید لورو جوړول<br>4 - د کور دننه د تولیدي سکټورونو د فرصتونو او ننګونو ارزونه.<br>5 - په مسلکي او تخصصی څانګو کې د کارکونکو د ظرفیت لوړولو لپاره د روزنیزو پروګرامونو ترتیبول |

| د ۱۴۰۱ هجري شمسي (۱۴۴۴ هجري قمري) کال عمده لاسته راوړنې (تفصیل) |
|---|
| د انجوګانو / غیر امارتي موسسو په برخه کې:<br>1. په تیر یو کال کې ، ۳۷۶ غیر دولتي نوي موسسې ثبت شوي چې له دې جملې څخه ۳۵۵ کور دننه یا داخلي او ۲۱ بهرنۍ غیر دولتي موسسې دي. |

2. اوسمهال مجموعآ (۲۳۹۳) غیر دولتي / مؤسسې ، چې (۲۷۲) بهرنۍ او (۲۱۲۱) کورني دي، اقتصاد وزارت کې ثبت او راجستر دي .همدارنګه د ۴ بهرنیو او ۲۱۲ کورنیو مؤسسو په ګډون ۲۱۶ غیردولتي مؤسسې منحل شوی دي.
3. د یو میلیارد او ۶۴۷ میلیونو ډالرو په ارزښت مجموعآ د ۳۵۷۳ پروژو د تطبیق پلان د مؤسساتو د واحدې بودیجې، د معلوماتي سیستم له لارې ، اقتصاد وزارت ته راپور ورکړل شوی، چې له دې جملې څخه ۲۲۳۳ پروژې چې د ټولو پروژو ۶۲ سلنه جوړوي د ( روغتیا، ښوونې او روزنې ، کرنې او اوبو لګولو ، ټولنیز خوندیتوب، زیربنا او د پېښو پر وړاندې د مبارزې په سکټورونوکې بشپړې شوي او پاتې ۱۳۴۰ پروژې تر کار لاندې دي.
4. د بهرنیو کارمندانو د قانوني تګ راتګ لپاره د ۲۰۱۱ بهرنیو اتباعو څخه، ۱۱۹۸ تنو ته دخولي ویزه، ۸۰۲ تنو ته د تمدید ویزه او ۱۰ تنو ته خروجی ویزه د قانونی اسنادو د اروزنې څخه وروسته بهرنیو چارو وزارت ته معرفي شوي دي.

- د انجوګانو د موثره فعالیت او د کړنو د انســجام په موخه نوي طرزالعمل ترتیب شــوي ده

په اقتصادي او تحلیلی برخه کې:

- په هیواد کې د سړو خونو د فعالولو د کمیسیون مشري
- د ځمکني ترانسپورت د تنظیم د کمیسیون مشری
- د هرات د غوریانو داوسیني او د غور ولایت د سربو او جستو د کانونو د داوطلبو شرکتونو د ستونزو او شکایتونو څېړنه
- د اقتصاد، کرنې، پوهنې، روغتیا، زیربنا او ټولنیز خوندیتوب په برخو کې اقتصادي لیدلوري جوړ ول
- د افغانستان اسلامي امارت د - اقتصادي او پرا ختیايي لاسته راوړنو راپور ترتیبول

- د اسلامي هيوادونو د اقتصادی همکاريو د سازمان (COMCEC) او د ايکو اقتصادي همکاريو سازمان ( (ECO) د پروژو په اړه لنډ راپور ترتيب شوی او د يادو سازمانونو د اړيکو د پياوړتيا په موخه يو لړ سپارښتنې او وړانديزونه د بهرنيو چارو محترم وزارت ته استول شوي دي .
- په هېواد کې د داخلی توليد -اقتصادی طرحه چمتو شوي او همدارنګه د غوړيو د توليد د وضعيت په اړه اقتصادی تحليل تر سره شوي
- د ۵۴ دولتي شرکتونو تشکيلاتی او مالي پلانونه ارزول شوي او د بنسټيزو فعاليتونو د پراختيا لپاره يې لازم تصميمونه نيول شوي
- د دولتي شرکتونو د شتمنيو د تثبيت د کميټو په ترکيب کې ګډون چې د ماليې محترم وزارت لخوا پيل شوې ده.
- د ځمکو د ويش د تخنيکي کميټې په جوړښت کې فعاله ونډه چې په پايله کې څه باندې ۲۵۰ جريبه ځمکه شاوخوا (۱۱۰) شرکتونو ته ويشل شوې ده.
- د انرژۍ او اوبو، دکليو دپراختيا، فوايد عامې، برشنا شرکت او ملي پراختيا شرکت د لويو پروژو د قراردادونو د بيا کتنې په تاکل شوو کميټو کې ګډون.
- د کجکي د برېښنا بند د پروژې د بياکتنې لپاره د مؤظف شوی کميټيه جوړښت کې ګډون.

<u>په ملي او نړيوالو غونډو کې د ګډون په برخه کې:</u>

د عاجلو اقتصادي اړتياوو د پوره کولو، اقتصادي ودې، عامه هوساينې، او د بې وزلۍ د کمولو په موخه د کورنيو او بهرنيو سرچينو د جذبولو له لارې په تير يو کال کې د ازبکستان، ترکمنستان، ايران، قطر، متحده عربي اماراتو هېوادونو ته د بهرنيو سرمايه ګذاريو د جذب او د اقتصادي همکاريو د پياوړتيا په موخه رسمی سفرونه تر سره شوي ، د دې ترڅنګ د دغه وزارت مشرتابه

د سیمې او نړۍ له بېلابېلو اقتصادي سازمانونو سره په آنلاین او مجازي ناستو کې پې د اقتصادي همکاریو ، پراختیا لپاره ونډه اخیستې ده.

د بهرنیوهیوادونو لکه د چین، جاپان، ترکیې، روسیې، ترکمنستان، ازبکستان، ایران، پاکستان، متحده عربي اماراتو، هالنډ او داسې نورو د خصوصي سکتور، له استازو او سرمایه ګذاران سره د سرمایه ګذارۍ د جلبولو او د اقتصادي همکاریو په موخه رسمي ملاقاتونه شوي دي.

د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په برخه کې:

- ۱۰ تنه مسلکیکارمندان د ماسټرۍ دورې پروګرام ته معرفي شوي،
- ۴۵ کارکوونکو لپاره د کمپیوټر دزده کړې او د بهرنیو ژبو روزنیزې برنامې دایر شوي ؛
- ۱۸ تنه نوي ګمارل شوي کارکوونکي د ملکي خدمتونو انستیتیوت روزنیزو پروګرامونو ته معرفي شوي؛
- د البیروني ، کابل او شیخ زاید پوهنتونتونونو محصلین د پرکتیک دورې لپاره جذب شوي؛

## د ۱۴۰۲ هجري شمسي (۱۴۴۵ هجري قمري) کال عمده پلانونه

- د تیر کال ( ۱۴۰۱ کال) د سوداګرۍ او پانګونې وضعیت اقتصادي تحلیل
- د دولت د مالي وضعیت او پولي سیستم تحلیل
- د دولتي شرکتونو تحلیل او ارزونه
- د کرنې , زیربنا , روغتیا او تولنیز خوندیتوب سکتورونو اقتصادي تحلیل
- په تیرو لسو کلونو کې د اریانا شرکت د مالي او اقتصادي وضعیت تحلیل
- په تیرو پنځو کلونو کې د افغانستان برشنا شرکت د مالي او اقتصادي وضعیت تحلیل

د افغانستان اسلامي امارت
رياست الوزراء
د دفتر لوي رياست
د عامه او استراتيژيکو اړيکو معاونيت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

امارت اسلامی افغانستان
رياست الوزراء
رياست عمومی دفتر
معاونيت روابط عامه و استراتيژيک
مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت

Islamic Emirate of Afghanistan
Directorate of Ministers
General Director Chief of Staff
Deputy Director General of Public and Strategic Affairs
Government Media and Information Center

- په افغانستان کې د خوراکي غوړيو د توليد د ملاتړ لپاره د پاليسي پلان ترتيبول
- د کار د اقتصادي ليدلوري جوړول
- د مرکزي او ولايتي څارنې او راپور ورکولو ســـيســـتم ( CMRS/PMRS ) پراختيا، وده او پايښت او د 37 مرکزي وزارتونو او د 34 اقتصاد رياستونو کارکوونکو ته دسيستم روزنه
- د غيردولتی موسسو لپاره د ثبت اسانتياوې او تسهيلاتو چمتو کول